د افغانستان د آزاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد

بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان

Free&Fair Election Foundation of Afghanistan

FEFA

## دافغانستان دازاده او عادلانه ټولټاکنو بنیاد(فیفا) مطبوعاتی اعلامیه

## ۱۳۸۸ دلو۲۷ ـ ۱۶ فبروری ۲۰۱۰

دټولټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا پارلمانی ټولټاکنواعلان شوی نیټه (۱۳۸۹ سنبله ۲۷) ته یواځی ۷ میاشتی پاتی دی ، لازمه ده چه نوموړی بهیر ښه ترسره کولو لپاره د اوس څخه ځانګړی تیاری ونیول شی او عملی کړای شی .

دهغه ځایه چه د ډلیزو رسنیو څخه معلومات ترلاسه شوی ، دټولټاکنو خپلواک کمیسیون او حکومت دټولټاکنو نوی قانون په تصویبولو پریکړه کړی ، بنآ د فرصت څخه په ګټی اخیستنی ، فیفا بنسټ د ټولټاکنو دبهیر دلا ښه ترسره کولو او دتیرو ټولټاکنوڅخه ترلاسه شوو تجروبو څخه په ګټی اخستنی ، وړاندیز کوی ترڅو د مدنی ټولنی ، سیاسی ګوندونو او کارپوهانو سره دپراخه مشورو ترسره کولو دلاری په ټولو سطحوکی هر اړخیز اصلاحی ګامونه په لار واچول شی او پدی توګه دخلکو باور په ټاکنیزبهیر غښتلی کړای شی .

همدارنګه دفیفا بنسټ په دی باور دی ، چه دازاد او عادلانه ټولټاکنو ترسره کولو لپاره باید لاندی ټکو ته جدی پاملرنه وشی :

- دټولټاکنو خپلواک کمیسیون دلوړ پوړو چارواکو (تصمیم نیونی او اجراییه برخو ) دتقرر بهیر کی اصلاح د مدنی ټولنی سره په ګډی همکاری ترسره شی همدارنګه دکاری کړنلارو (طرزالعمل) اصلاح او دمهموکارکوونکو د کار ګمارلو پر پالیسی بیا کتنه ، او په لازمه توګه اصلاح شی .

- هغه شمیر کارکوونکی چه دټولټاکنو خپلواک کمیسیون او دټولټاکنو دشکایتونو د کمیسیون لخوا دتیری پروسی په بهیر کی دوظیفوی غفلت او یاهم د دندی څخه ناوړه ګټه اخیستنی په تور باندی په مستقیمه یا غیرمستقیمه ډول تورن شوی دقانونی څیړنی لاندی نیول .

- ټاکنیزو شکایتونو، نیوکو او سرغړونو ته درسیدنی میکانیزم سمون او پراختیا، همدارنګه دقانونی فرصتونو رامنځته کولو دلاری دملی او بین المللی غړو په شتون کی خپلواکه او بی پری تشکیل او داجراأتو لپاره دکافی وخت او امکاناتو درلودل .

دفیفا بنسټ ستاسی دلاغور په موخه ، عمده وړاندیزونو یوه برخه چی دتیری ټولټاکنی دپروسی دڅارنی راپورکی هم یادونه شوی د همدی اعلامیه دلاری بیا ټینګارکوی .

دلازیاتو معلوماتو لپاره په لاندی پته اړیکه ونیسی:
جانداد سپین غر
دازاد او عادلانه ټولټاکنو دبنسټ اجرایوی مشر
ګرځنده تلفون شمیره : ۰۷۹۹۲۲۵۴۴۱
بریښنالیک : spin_ghar2002@yahoo.com